


گالیله نامتو فیلسوف، ستوری پېژندونکی، فزیک پوه

**گاليليو گالیله:** دی يو ايتاليوي فيلسوف، ستوری پېژندونکی، فزيک‌پوه، رياضي پوه مهندس او انجنير وو، چې د فبروري مياشتې په (۱۵) مه، پر (۱۵۶۴) زېږدیز کال کې د ایتالیا د «پيزا» ښار د «توسکاني» په سيمه کې زېږېدلی دی. گالیله ډېر پوه، هوښيار او ځيرک ماشوم وو. له لوست او درس وروسته به تل د څېړنې او پلټنې په موخه په ښار کې شاو خوا گرځېده. پر (۱۵۷۵)ز کال کې د فرانسې لوی ښار «فلورانس» ته ولاړو، چې د پاريس په ختيځ کې پروت ښار دی.

هغه مهال د فلورانس ښار د زده کړې او روښاندی تر ټولو مهم مرکز گڼل کېده، له دې وروسته يې پلار هغه د «والومبروسا» ښار ته نږدې یوې مذهبي مدرسې ته ولېږه. په لومړيو کې گالیله غوښتل چې کشيش شي، خو پر(۱۵۸۱)ز کال چې اوولس کلن وو، د ده د خوښې پر خلاف او د پلار په پرله پسې غوښتنه يې د «پيزا پوهنتون» د طب په برخه کې زده کړې پيل کړې.

د طب زده کړې ته يې دوام ورنکړ، خو پر ځای يې د رياضياتو لوست او مطالعه پيل کړه او د رياضياتو سره يې لېوالتيا او مينه زياته شوه. گاليله د ارسطو د فلسفې او رياضياتو د زده کړې لپاره ځان دې ته چمتو کړ، چې په دې برخه کې خپل مالومات بشپړ کړي. دی د عصري علومو پلار بلل کيږي. هغه د فزيک، ستورپوهنې، جيولوژي، رياضي او فلسفې په برخه کې ستر چوپړ او خدمتونه کړي دي، ډېرې څېړنې او تحقيقاتي کارونه، موندنې او کشفيات يې تر سره

کړې دي. د ده يو لوی کار دا وو، چې «تلسکوب» يې اختراع کړ او د ستورو په اړه يې څېړنې پيل کړې. ده د خپل تلسکوب  له لارې کلونه کلونه د شمسي نظام او د آسمان د نورو ستورو په لوست او مطالعه بوخت شو او د خپلو مشاهدو په وسيله يې د «کوپرنيک» نظريه ثابته کړه، چې لمر د شمسي نظام مرکز دی او ځمکه د نورو سيارو په شان يوه سياره ده. ده د خپل پرمختللي ټيلسکوپ په مرسته د مشتري څلور سپوږمۍ، «د زحل حلقې، د ونوس بڼې او شکلونه، د سپوږمۍ ورانه سطحه او د لمر ځایونه» وليدل او کشف يې کړل. دی بريالی شو چې د سپوږمۍ د سطحې جزيات مطالعه کړي او له خلکو سره يې شريک کړي. ګاليله پر (۱۶۱۶)زکال کې د لمر په شاوخوا کې د لمريز نظام د حرکت په اړه ډېر تبليغات وکړل او پر (۱۶۳۳)ز کال کې يې د لمر په شاوخوا کې د ځمکې د حرکت نظريه وړاندې کړه. د نوموړي نامتو نښير(اثر)، «د نړۍ د دوو نظامونو په باب مکالمه» نومېږي. ګاليله د جنوري  مياشتې په اتمه، پر (۱۶۴۲)ز کال کې د «اوه اويا» کلنۍ په عمر مړ شوی دی.

**تاسو ته د ګاليله اغېزناکې او ګټورې خبرې او ويناوې وړاندې کوم:**

- زړور خلک فرصتونه مومي او کمزوري خلک فرصتونو ته په تمه دي.

- تاسو کولی شئ ما بې وسه او اړ کړئ چې هغه څه ووايم چې تاسو يې غواړئ تاسو ممکن ما د هغه څه په ويلو تورن کړئ چې زه يې وايم، خو ځمکه په هرصورت ښوري او حرکت کوي.

- نړۍ هغه چا ته غوړ نيسي څوک چې زوروره او غښتلې اراده او تکل لري او هغه پوهيږي چې په کومه لاره روان دی.

- هر چا چې تېروتنه نه وي کړئ، کومه موندنه او کشف يې هم نه دی کړئ.

- د خپلو ټولو غمونو او مصيبتونو د هيرولو لپاره کار وکړئ.

- ټول حقايق کله چې ښکاره او وموندل شي په اسانۍ پوهيدل کيږي، اصلي خبره دا ده چې دوی ښکاره او کشف کړئ.

- ځان پيژندنه ترټولو لويه پوهه او حکمت دی.

د اوسنۍ زمانې قدر وکړئ چې تېر به هېڅکله بېرته رانشي او نه به راتلونکی راشي.

- هغه څه چې په رياضي کې مهم دي اندو فکر کول دي! رياضي هغه الفبا ده چې پر بنسټ يې خدای نړۍ جوړه کړې ده.

- ښوونکي درې او دروازه پرانيزي. خو تاسو هغه څوک ياست چې بايد ورننوځئ.

- کار وکړئ تر څو خپل ټول غمونه او اندېښنې هېرې کړئ.

- اسمان نه یوازې گرمي او د باران مهرباني لري. خو برېښنا او سیلابونه هم لري.

- د پنځ(طبیعت) قوانین د ریاضیاتو په ژبه لیکل شوي ده.

- له ستورو سره دومره ژوره مینه لرم چې د شپې له تیارو، نه وېرېږم!

***

**په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدالقادر مسعود**